خاونـدان)، سـاکا پاراسـغدام(Saka Para Sugdam) او د هـوارو سـاکا[۵۲]. د سـاکا د هـېڅ ټبـر سـيمه پـه دقيـق ډول پـه ګوتـه کېـدلی نـه شي. دغـومره ويـل کېـدلی شي چې سـاکا پـه هخامنشـي دوره کـې د لويـديځ کاشـغر، ختـيځ کسـپين او سـردريا يـا جيحـون تـرمنځ سـيمو کـې کوچيـانی ژونـد لاره او کلـي او ښـارونه يـې نـه لـرل او د اپيسـاکوی(Apaisakoi) خانګې يې په فرغانه کې کرنه کوله او ماهي نيول.

## ساکا او هخامنشي امپراتوري:

د سـاکا اړيکـي لـه هخامنشـيانو سـره لـه پيـل نـه ترخـه وو. سـيروس غوښـتل چـې د اراکـس(Araxes) سـين يـا سـردريا (جيحـــون) د هغـــه د امپراتـــوري ختيځـــه پولـــه وي. دا د مســـاګيت ســـاکا ســـيمه وه او د هغـــو واکمنـــې تـــوميريس (Tomyris) ورتـــه ځـــواب واســـتوه چـــې د دوی د هېـــواد د لانـدې کولـو تکـل ونـه کـړي. د هېـرودوت پـه وينـا سـيروس هغـې تـه د واده وړانـديز وکـړ، خـو هغـه پوهېدلـه چـې دی غـواړي پـه دغـه پلمـه د دوی هېـواد لانـدې کـړي. بيـا نـو د ســـــيروس، د هخامنشـــــي امپراتـــــوري مؤســـــس او د مســـاګيتانو تـرمېنځ جګـړه ونښـته او "د مســاګيتانو دريمـه برخـه پـوځ پـه دوی تـوی شـول او د سـيروس د پـوځ هغـه برخـه چـې يـې شـاته پـرې ايښـې وه، د هغـوی لـه مقاومـت سـره سـره

له مېنځه يووړه. دغو مساګيتا يوه لويه مېلمستيا جوړه کړه، همدا چې دوی دښمن لاندې کړ او ځانونه يې په خوړو او واين سره ډک کړل، ويده شول. پاړسيانو ناڅاپه په پټه پرې ودانګل، ډېر يې ترېنه ووژل او نور يې ترېنه يرغمل کړل، چې په هغو کې د مساګيتانو قومندان سپاراګه پايسس (Sparagapises) د واکمنې تومیريس زوی هم و. " هغې بيا د يوه پيغام په ترڅ کې له سيروس نه وغوښتل، چې "... مشوره درکوم چې زوی مې همدا اوس راکړه او زموږ له ملک څخه ووځه... که دغسې ونه کړې د مساګيتانو په خدای ګوټي لمر باندې قسم کوم چې دتا د ټولو وينو له نه مړېدو سره سره به درته سبق درکړم. " خو سيروس د هغې غوښتنه ونه منله او د ملکې زوی چې له پاړسيانو سره يرغمل و، ځان ووژه. بيا نو د دواړو خواوو ترمېنځ جګړه حتمي شوه. توميريس خپل ټول پوځونه غونډ کړل او پر پاړسيانو يې بريد وکړ. اول له ليرې نه يوه بل په غشو ويشتل، ترڅو چې خبره لاس په لاس د چړکيو او نيزو جنګ ته ورسېده. د هېرودوت په وينا "د پاړسيانو ټول پوځ له مېنځه لاړ، چې په هغو کې په خپله سيروس هم و چې له نهه ويشت کلونو واکمنۍ نه وروسته [په مخزېږدې ۵۳۰] له مينځه لاړ. " هېرودوت دغه جنګ تر نورو ډېر شديد ګڼي او وايي، چې ملکې توميريس بيا د سيروس جسد ته په خطاب کې وويل، چې "زه ژوندۍ او

SABAWOON.COM

Web Publication www.sabawoon.com - All Rights Reserved by Prof. M. Hassan Kakar PHD

سو بمنه یم، خو تا سره له دې هم په چل ول سره له خپل زوی نه په محرومولو سره برباده کړې یم.(۵۷) "

د منځنۍ اسیا خلکو تاریخي رسالت لکه چې د امپراتورانو او امپراتوریو له منځه وړل دي، چې د امپراتور سیروس په وژلو سره یې پرې پیل وکړ. وروسته د بخدي والي بیسوس د هخامنشیانو وروستی امپراتور دریم داریوش له منځه یووړ، چې د مقدوني سکندر نه تښتېده. ورپسې وروسته د ساسانیانو امپراتور، دریم یزدګرد په مرو کې د خسرو نومي ژرنده ګړي په لاس ووژل شو، چې له فاتحو عربو نه تښتېده او هلته په مرو کې د خسرو ژرندې ته ننوتلی و. په اتلسمه پېړۍ کې شاه محمود هوتک د صفویانو او بیا احمد شاه دراني د مغولو امپراتوري لاندې کړه، په داسې حال کې چې په بلې پېړۍ کې افغانانو د انګلیس امپراتوري پوځونه دوه ځل مات کړل او په شلمې پېړۍ کې یې د شورویانو امپراتوري پوځونه له خپل ملک نه په زور وایستل. شورویانو ته دا دغسې ضربه وه چې ډېر زر یې د امپراتورۍ په سقوط کې یو مهم عامل شو.

په هر حال، د بهستون د لیکنې له مخې له سیروس نه لس کاله وروسته داریوش ساکا چې شاید مساګیت ساکا به وي لاندې کړل او د هغو یو مشر سکون خا (Skunkha) یې وواژه، ځکه چې مساګیتانو د زرتشتي

د نیکي خدای ګوتې اهورا مزدا چې د هخامنشیانو رسمي دین و، نه منه خو د هخامنشیانو واکمني په مساګیتانو باندې یقیني نه وه. د فرای په وینا "زما په نظر د هخامنشیانو له خوا د ساکا د ډول ډول ټبرونو او د ختیځ د نورو ولسونو پاڅونونه او بیا بیا لاندې کېدل، چې د زړې پارسو پر اساس دي، باید په هېڅ ډول په تاریخي ډول ثابت شوي و نه ګڼل شي، که څه هم هغه به په زړه پورې وي.[۵۸] " د فرای د نظر په ملاتړ باید وویل شي، چې د سکندر د یرغل په وخت کې په ختیځ کې د هخامنشي پوله د سردریا سین و، خو هیرودوت د مساګیتا په اړه دا هم وایي، چې "کله یو سړی زوړ شي، خپلوان یې سره ټولېږي، د پسو او وزو په ګډون یې وژني، غوښې یې پخوي او په لویې مېلمستیا کې یې خوري، خو څوک چې له ناروغي نه مړ شي، مړی یې خښوي. "

## د مقدونیې سکندر او اریانه:

د مقدوني سکندر په یرغلونو او له هغه وروسته په مخزېږدي ۲۲۰ کې په چین کې د لوی دېوال په بشپړېدلو سره په ټولې اسیا کې ستر بدلونونه یو په بل پسې راغلل. د هخامنشي امپراتوري د لویدیځ له خوا د سکندر په لاس نسکوره شوه او له ختیځ نه پوونده ټبرونه د لویدیځ په لور

SABAWOON.COM